آنلاین مینه.
ژمن



ketabton.com - The Digital Library

آنلاین مینه.
ژمن

# بسم الله الرحمن الرحیم

ketabton.com - The Digital Library



څه وخت کیدي چي له یوې انجلۍ سره مي اړیکه پیداشوي وه ، خو ډیر لږ وخت یي کیده .
لومړي فیسبوک و خو بیا د وخت د سپما په سبب واټساف ته کیسه لاړل .

یوه ورځ پخپل معاینه خانه کي ناست وم ، خو د هغې د میسج انتظار ډیر زیات ځورولم.

بلاخره میسج یې وکړ، لیکلي یې وو:

ډاکټره، ډېر خو په تمه پاتې نه شوې؟

څو شېبې مې موبایل ته کتل. نه پوهېدم څه ولیکم. داسې مې احساسوله لکه د هغې یوه وړه جمله هم چې زما د ټولې ورځې ستړیا بدلولی شي.

ومي لیکل:

نه، بس زه هم مصروف وم.

ketabton.com - The Digital Library



موبایل مې کېښود، خو لا مې لاس ترې نه و پورته کړی چې بل میسج راغی.

څنګه یې؟

یوازې دومره مې ولیکل:

ښه یم، مننه. ستا په میسج کولو نور هم ښه شوم.

مېسج مې ولیږه، خو سمدستي مې زړه راته وویل چې دا خبره نیمه رښتیا وه.

ځان سره مې وویل:

کاشکې رښتیا هم ښه وای.

ما نه غوښتل هغې ته ووایم چې د هغې د میسج په تمه وم. نه مې غوښتل پوهه شي چې د هغې د یوې لنډې جملې لپاره مې څو ځله موبایل راواخیست، سکرین مې روښانه کړ او بېرته مې کېښود.

ketabton.com - The Digital Library



ځينې خبرې چې انسان يې په زړه کې وساتي، بنايي د بل چا لپاره عادي وي، خو د ځان لپاره د يوې اوږدې کيسې په اندازه درنې وي.

هغې د خندا سټيکر راولېږه.

بيا يې وليکل:

نن دې يو انځور راته ولېږه، غواړم وو دې ګورم.

زړه مې بې اختياره خوشحاله شو.

موبايل مې په لاس کې ونيو او د مخ کيمره مې خلاصه کړه. لومړی مې ځان ته وکتل، بيا مې سمدستي کيمره بنده کړه.

له سهاره مې ويښتان ګډوډ وو. ټوله ورځ په اندېښنه او انتظار کې تېره شوې وه. د مخ ستړيا مې له لرې هم معلومېده.

ځان ته مې په هنداره کې وکتل.

په زړه کې مې وويل:

ketabton.com - The Digital Library



همداسې دې ورولېږم؟

بیا مې په ویښتانو کې څو ځله ګوتې تېرې کړې. هڅه مې وکړه چې لږ منظم یې کړم. مخ مې برابر کړ. لږ سم کیناستم او بیا مې سلفي واخیسته.

عکس مې څو ثانیې په لاس کې ونیو.

زړه مې نه کېده چې ولېږم.

بیا مې فکر وکړ:

خو هغې خپله غوښتې ده.

عکس مې ورولېږه.

څو شېبې مې سکرین ته کتل.

هغې لا آنلاین وه.

ما انتظار وکړ.

یوه دقیقه تېره شوه.

بیا څو دقیقې.

خو ځواب رانغی.

ما موبایل کېښود.

ketabton.com - The Digital Library



بیا مې واخیست.

سکرین مې روښانه کړ.

هیڅ نه وو.

بیا مې کېښود.

دا کار مې څو ځله تکرار کړ.

بالاخره ومې لیدل چې هغه افلاین شوې ده.

زړه مې لږ درووند شو.

نه پوهېدم ولې.

ما له ځانه سره وویل:

کېدای شي مصروفه شوې وي.

خو بیا مې بل فکر راغی:

کېدای شي عکس یې ولیدلي وي ، خو څه یې خوښ نه شول؟

سمدستي مې دا فکر له ځانه وشړی.

ketabton.com - The Digital Library



نه، ولې بايد داسې فکر وکړم؟

موبايل مې پر مېز کېښود او ځان مې په بل کار بوخت کړ.

خو ذهن مې نه ورسره بوختېده.

څه وخت وروسته مې بيا موبايل راواخيست. زاړه ميسجونه مې پرانيستل.

د پخوانيو خبرو تر منځ مې سترګې ګرځولې.

ځينې خبرې عادي وې.

ځينې ټوکې وې.

ځينې داسې جملې وې چې هغه وخت به مې لوستلې او موسکی کېدم.

خو اوس مې په هماغو خبرو بيا بيا خندل.

يوه ټوکه مې ولوستله.

ومې‌خندل.

بيا مې بېرته پورته کړه.

ketabton.com - The Digital Library



خو دا ځل مې د خندا تر شا یو عجیب خفګان و.

ځان سره مې فکر وکړ:

ولې د هغې خبرې اوس دومره مهمې شوې دي؟

څنګه ممکنه ده چې یو څوک په دومره لنډ وخت کې د انسان د ورځې یوه برخه شي؟

ما د موبایل سکرین ته وکتل.

د هغې نوم مې مخې ته و.

څو شیبې چوپ پاتې شوم.

بیا مې له ځانه وپوښتل:

ولې؟

ولې د داسې چا لپاره انتظار وکړم چې ښايي زما په انتظار کې هېڅ نه وي؟

ولې باید د داسې چا په یوه میسج خپل مزاج وتړم چې ښايي زما د ورځې، زما د فکرونو او زما د خاموشۍ په اړه هېڅ خبر هم نه وي؟

ketabton.com - The Digital Library



ولې باید د یو چا د شتون په اندازه د هغه نشتون هم راته درونډ شي؟

ما اوږده ساه واخیسته.

ځان سره مې وویل:

زه خو مخکې داسې نه وم.

نو څه وشول؟

ولې مې زړه دومره ژر د بل چا په لور لاړ؟

ما موبایل مخامخ پر مېز کېښود.

څو ثانیې وروسته مې بېرته راواخیست.

هیڅ نوی میسج نه و.

سکرین مې بند کړ.

په هماغه شیبه کې مې داسې احساس وکړ چې شاید ستونزه په هغې کې نه وه.

ستونزه په ما کې وه.

ketabton.com - The Digital Library

آنلاین مینه.
ژمن

ما له هغې څخه هغه څه تمه کول چې هغې هېڅکله راسره ژمنه نه وه کړې.

ما د هغې له څو عادي خبرو څخه یوه داسې کیسه جوړه کړې وه چې شاید یوازې زما په ذهن کې موجوده وه.

همدا فکر تر ټولو ډېر دردونکی و.

ځکه انسان هغه وخت ډېر ماتېږي چې پوه شي، د هغه د زړه لویه برخه د داسې څه لپاره ځای نیسي چې د بل چا په ژوند کې شاید هېڅ ځای ونه لري.

سوړ اسویلی مې وکړ.

له کړکۍ سره نږدې شوم.

د ماښام تیارې ورو ورو پر ښار خپرېدې. د ښار څراغونه یو په بل پسې بلېدل. له لرې د موټرو څراغونه ښکارېدل او د خلکو د تګ راتګ شور په کوټه کې تر نیمه رارسېده.

ketabton.com - The Digital Library

آنلاین مینه.
ژمن

ما کړکۍ لږه خلاصه کړه.

سوړ باد راغی.

څو شیبې مې سترګې پټې کړې.

بیا مې اسمان ته وکتل.

د ماښام په تیاره کې ځینې ستوري ښکاره شوي وو.

ما تل فکر کاوه چې ستوري څومره لرې دي.

خو په هغه شیبه کې مې احساس وکړ چې شاید د انسان او انسان تر منځ واټن هم کله کله د ستورو په اندازه شي.

ته یو چا ته ډېر نږدې یې، خو بیا هم نه شې وررسېدای.

ما په ډېر ټیټ او غمجن غږ وویل:

خدایه...

څو شیبې مې خبرې ونه شوې.

ketabton.com - The Digital Library



لکه زړه مې چې د دعا د کلمو په پیدا کولو کې هم سترړی شوی وي.

بیا مې وویل:

چا چې زما څخه زما سکون او ارام اخیستی، یا خو یې راته راکړه...

غږ مې ورو شو.

سترګې مې له اسمانه نه اړولې.

یا زما زړه ته داسې سکون راکړه چې د هغه په نشتون مې فکر خراب نه شي.

اوږده چوپتیا شوه.

ما بیا وویل:

که هغه زما لپاره وي، لار یې راته اسانه کړه...

او که نه وي...

دلته مې خبرې ودرولې.

دا جمله مې په خوله نه شوه راوړلی.

ketabton.com - The Digital Library



ځکه انسان ځینې وختونه له خدایه د یوې خبرې غوښتنه کوي، خو په زړه کې یې هیله وي چې هغه غوښتنه دې برعکس قبوله شي.

سترګې مې بښکته کړې.

موبایل مې لا هم په لاس کې و.

سکرین مې روښانه کړ.

هیڅ نوی میسج نه و.

دا ځل مې موبایل بېرته کېښود.

خو د زړه له دننه مې یو غږ راته ویل:

ته به بیا هم انتظار کوې.

ما سترګې پټې کړې.

او په زړه کې مې یوازې دومره وویل:

خدایه، که دا احساس زما د ارامۍ قیمت وي، نو یا یې زما په برخه کړه، یا مې له دې انتظار څخه خلاص کړه.

ketabton.com - The Digital Library



بهر ښار لا هم روښانه و.

خو زما په دننه کې هغه ماښام تر بل هر وخت تیاره و.

کور ته راغلم تر لومړنيو کارونو وروسته خپلي د خوب کوټې ته لاړم .

موبایل مې پر مېز ایښی و، خو سترګې مې لا هم پرې وې.

ځان سره مې ژمنه کړې وه چې نور به يې نه اخلم.

خو انسان له خپل زړه سره هغه ژمنې ډېرې کوي چې خپله پوهېږي نه يې شي ساتلی.

څو دقیقې تېرې شوې.

بیا مې موبایل راواخیست.

هیڅ میسج نه و.

دا ځل مې د هغې د نوم پر ځای یوازې د سکرین وخت ته وکتل.

ketabton.com - The Digital Library



د شپې وخت ورو ورو تېرېده.

ما غوښتل ویده شم، خو ذهن مې نه ارامېده.

هر ځل به مې سترګې پټې کړې، د هغې وروستی میسج به مې ذهن ته راغی:

نن دې یو انځور راته ولیږه، غواړم وو دې ګورم.

ما ځان سره وویل:

شاید یوازې یې غوښتل انځور مې ووینې.

بس.

همدومره.

ما ولې دومره لویه معنا ورکړه؟

خو بیا مې زړه راته ویل:

که عادي خبره وه، نو ولې دې دومره خوشحالی وکړه؟

ketabton.com - The Digital Library



زه چوپ شوم.

د زړه ځینې پوښتنې داسې وي چې انسان ورته د جواب پر ځای یوازې سکوت پیدا کوي.

هماغه شپه مې ډېر کوښښ وکړ چې موبایل له ځانه لرې کېږدم.

بالاخره مې د خوب هڅه وکړه.

خو لا مې سترګې نه وې پټې کړې چې موبایل مې رڼا شو.

زړه مې بې اختیاره درزا وکړه.

سمدستي مې لاس ور وغځاوه.

د هغې میسج و.

ومې کتل.

لیکلي یې وو:

ښښنه غواړم، ناڅاپه مې انټرنېټ بند شو.

ما میسج بیا ولوست.

ketabton.com - The Digital Library

آنلاین مینه.
ژمن

داسې وم لکه د هغې د يوې ساده جملې په منځ کې مې چې ټوله ورځ ورکه شوې وه.

ورو مې ولیکل:

هیڅ خبره نه ده.

څو ثانیې وروسته مې پاک کړ.

بیا مې ولیکل:

نه، هېڅ خبره نه ده، فکر مې کاوه شاید مصروفه شوې وې.

دا هم راته ډېر ښکاره شو.

بیا مې پاک کړ.

بالاخره مې یوازې ولیکل:

هیڅ خبره نه ده، ښه يې؟

هغې ځواب راکړ:

ketabton.com - The Digital Library



هو، ښه یم.

بیا لږه شېبه چوپتیا وه.

ما فکر کاوه چې خبرې به ختمې شي.

خو بیا یې ولیکل:

ستا انځور مې ولیدی.

زړه مې یو ځل بیا بې اختیاره درزا وکړه.

ما ونه غوښتل سمدستي جواب ورکړم.

لکه غوښتل مې خپل ځان ته وښیم چې دومره هم راته مهمه نه ده.

خو څو ثانیې وروسته مې ولیکل:

نو؟

هغې د خندا ستېکر راولېږه.

بیا یې ولیکل:

ketabton.com - The Digital Library



ښه ښکارېدې.

یوازې دوه کلمې.

ښه ښکارېدې.

خو ما هغه دوه کلمې څو ځله ولوستې.

زه نه پوهېدم چې ولې د هغې ساده خبرې زما لپاره دومره لویې شوې دي.

ما ولیکل:

مننه.

هغې وویل:

خو یوه خبره پکې وه.

ما ژر ولیکل:

څه؟

ketabton.com - The Digital Library



هغې وویل:

ډېر ستړی ښکارېدې.

زما د ګوتې حرکت پر سکرین ودرېد.

ځو شېبې مې هېڅ ونه لیکل.

هغې بیا ولیکل:

هر څه سم دي؟

ما موبایل په لاس کې نیولی و، خو داسې احساس مې کاوه لکه هغې چې د عکس له لارې زما هغه څه لیدلي وي چې ما غوښتل پټ یې کړم.

ما ولیکل:

هو، هر څه سم دي.

ketabton.com - The Digital Library



بیا مې لږ فکر وکړ او ورزیاته مې کړه:

یوازې لږ سترې وم.

هغې ولیکل:

یوازې سترې؟

ما موسکا وکړه.

دا پوښتنه یې عجیبه وه.

ما ولیکل:

هو، ولې؟

ځواب یې لږ وروسته راغی:

نه پوهېږم، داسې راته ښکاري چې ته د عادي ستړیا نه زیات څه لرې.

ketabton.com - The Digital Library



زه پر څوکۍ تکیه شوم.

د هغې خبرې مې بیا ولوستې.

د اوږدې مودې وروسته یو چا زما د خاموشۍ تر شا څه لیدلي وو.

ما غوښتل ورته هر څه ووایم.

د ورځې انتظار.

د موبایل په سکرین کې د هغې د نوم انتظار.

هغه ناارامي چې خپله مې هم نه شوای درک کولی.

هغه وېره چې شاید زه د هغې لپاره دومره مهم نه یم لکه څومره چې هغه زما لپاره مهمه شوې ده.

خو بیا مې ټولې خبرې په زړه کې وساتلې.

ځکه ځینې احساسات چې انسان یې په ژبه ووایي، شاید خپل ارزښت له لاسه ورکړي.

ما یوازې ولیکل:

ketabton.com - The Digital Library



ځینې وختونه انسان ستړی نه وي، بس زړه یې لږ ستړی وي.

څو شپې هېڅ خوب رانغی.

ما فکر وکړ شاید خبره مې ډېره جدي شوه.

بیا یې میسج راغی:
او د زړه ستړیا څنګه ختمېږي؟

ما سکرین ته وکتل.
دا پوښتنه یوازې یوه پوښتنه نه وه.
لکه هغې چې زما د زړه دروازه ورو ورو ټکولې وي.

ما ولیکل:

ketabton.com - The Digital Library



نه پوهېږم.

هغې وویل:

ته ډاکټر یې، باید پوه شې.

ما وخندل.

لومړی ځل و چې په هغه شپه مې له زړه وخندل.

ما ولیکل:

د زړه ځینې ناروغۍ په کتابونو کې نه وي لیکل شوې.

هغې ځواب راکړ:

نو درمل یې هم نه لري؟

ما څو شېبې فکر وکړ.

ketabton.com - The Digital Library



بیا مې ولیکل:

کېدای شي ولړي.

هغې وپوښتل:

څه؟

ما موبایل په لاس کې کلک ونیو.

زړه مې راته ویل:

همدا اوس یې ووایه.

خو عقل مې ویل:

نه.

ما ولیکل:

نه پوهېږم، لا مې پیدا کړي نه دي.

ketabton.com - The Digital Library

آنلاین مینه.
ژمن

هغې د خندا ستیکر راولېږه.

بیا یې ولیکل:

نو پیدا یې کړه، ډاکټره.

ما سکرین ته کتل.

د هغې وروستۍ جمله مې بیا ولوستله.

پوه نه شوم چې ولې مې په زړه کې دومره ځای ونیو.

کېدای شي ځکه چې ما د هغې په خبرو کې د ټوکې تر څنګ یو ډول پاملرنه هم احساسوله.

او شاید همدا هغه څه وو چې زه ترې وېرېدم.

ځکه کله چې یو څوک ستا د زړه په خاموشه ځای کې د پاملرنې څراغ بل کړي، بیا د هغه له نشتون سره تیاره ډېره ښکاره ښکاري.

ما موبایل پر سینه کېښود.

سترګې مې پټې کړې.

او د لومړي ځل لپاره مې له ځانه دا پوښتنه وکړه:

ketabton.com - The Digital Library



ايا هغه هم کله زما په اړه داسې فکر کوي؟

د دې پوښتنې ځواب نه و.

خو هماغه بې ځوابه پوښتنه د هغې شپې تر ټولو اوږده ملګرې شوه...

د شپي په اوږدو کي مو په بيلابيلو موضوعاتو خبري وکړي خو عادي خبري وي.

سهار چې روغتون ته ورسېدم، د تېرې شپې خبرې مې لا هم په ذهن کې ګرځېدې.

هغې راته ويلي وو:

د زړه ستړيا څنګه ختميږي؟

او زه لا هم د هغې پوښتنې په ځواب پسې ګرځېدم.

ketabton.com - The Digital Library



روغتون ته چې داخل شوم، د شپې ټول فکرونه مې د کارونو تر منځ ورک شول. د ناروغانو تګ راتګ، د کارکوونکو خبرې، د مراجعینو شور او د درملنې چارې ټولې د دې سبب شوې چې ذهن مې لږ تر لږه څو ساعته له هغې څخه لرې شي.

خو کله چې به لږ فرصت پیدا شو، لاس به مې بې اختیاره جیب ته لاړ.

موبایل به مې راویست.

نه ځکه چې کوم مهم کار مې درلود.

یوازې د دې لپاره چې وګورم، شاید هغې کوم میسج رالیږلی وي.

تر غرمې پورې یې هېڅ میسج ونه کړ.

ما هم ځان سره وویل:

بس، پرېږده.

ketabton.com - The Digital Library



هر وخت خو انسان نشي کولی چې د یو چا په انتظار کې وي.

خو د زړه منطق له عقل سره ډېر فرق لري.

د ماسپښین پر مهال په یوه نسبتاً ارامه کوټه کې ناست وم. د ناروغ دوسیه مې مخې ته وه او د هغې په اړه مې یادښتونه لیکل.

موبایل مې پر مېز کېښود.

سکرین یې روښانه شو.

د هغې میسج و.

یوازې یې لیکلي وو:

مصروف یې؟

ما میسج ولوست.

پر شونډو مې بې اختیاره موسکا راغله.

ketabton.com - The Digital Library

آنلاین مینه.
ژمن

ما ولیکل:

هو، روغتون کې یم. لږ مصروف یم.

هغې ولیکل:

ښه، نو وروسته خبرې کوو.

ما میسج ولوست.

څو شیبې مې فکر وکړ.

بیا مې ولیکل:

که غواړې، لږ وروسته خبرې کولی شو.

د هغې ځواب ژر راغی:

په زنګ؟

ketabton.com - The Digital Library



زړه مې ناڅاپه تېز شو.

ما د هغې سره تر هغه وخته هېڅکله په زنګ کې خبرې نه وې کړې.

یوازې میسجونه.

د هغې لیکل شوې خبرې مې لیدلې وې، خو غږ مې یې نه و اورېدلی.

ما سکرین ته کتل.

ګوتې مې پر موبایل ولاړې وې.

بیا مې ولیکل:

هو، ولې نه.

هغې وویل:

کله؟

ما د روغتون ساعت ته وکتل.

ketabton.com - The Digital Library



کارونه مې لا پاتې وو، خو پوهېدم چې که وخت ورته وټاکم، بیا به ټوله شپه ورته انتظار کوم.

ما ولیکل:

لس دقیقې وروسته.

هغې وویل:

سمه ده.

موبایل مې کېښود.

لس دقیقې. هو.

یوازې لس دقیقې.

خو ناڅاپه همدا لس دقیقې راته د ټولې ورځې تر ټولو اوږدې شوې.

د ناروغ دوسیه مې مخې ته وه، خو ذهن مې بل ځای و.

ketabton.com - The Digital Library



ځان سره مې ویل:

څه به وایم؟

لومړی به څه ورته وایم؟

که غږ مې بدل شو؟

که خبرې رانه ګډې وډې شوې؟

که چوپتیا راغله؟

ما په ځان وخندل.

ډاکټر یم، هره ورځ له لسګونو خلکو سره خبرې کوم.

خو نن د یوه انسان د غږ اورېدل راته تر هرې طبي خبرې سخت وو.

لس دقیقې پوره شوې.

موبایل مې په لاس کې و.

ما د هغې چټ خلاص کړ.

د زنګ نښه مې مخې ته وه.

څو ثانیې مې ورته وکتل.

ketabton.com - The Digital Library



بیا مې زنګ وواهه.

لومړی زنګ...

دوهم...

زړه مې درزا کوله.

بیا یې زنګ پورته کړ.

د هغې غږ مې د لومړي ځل لپاره واورېد.

سلام...

یوازې یوه کلمه.

خو ما داسې احساس وکړ لکه تر دې وړاندې مې چې د هغې په اړه کومه نیمګړې پېژندنه لرله او اوس یې یو نوی باب پرانیستل شو.

ما هم وویل:

سلام.

ketabton.com - The Digital Library



څو شیبې دواړه چوپ وو.

هغې په خندا وویل:

ولې غلی شوې؟

ما وخندل.

ومې ویل:

نه، بس... ستا غږ مې لومړی ځل واورېد.

هغې وویل:

نو څنګه دی؟

ما لږ مسکا وکړه.

ومي ویل:

داسې دی لکه په میسجونو کې چې مې تصور کاوه.

ketabton.com - The Digital Library



هغې وخندل.

د هغې خندا په تلیفون کې ډېره نرمه ښکارېده.

ما وپوښتل:

ته ولې غلې شوې؟

ویې ویل:

زه هم نه پوهېږم څه ووایم.

ما وویل:

نو دواړه نه پوهېږو.

بیا دواړو وخندل.

هماغه کوچنۍ خندا زموږ د لومړۍ خبرې دروندوالی لږ کړ.

ketabton.com - The Digital Library

آنلاین مینه.
ژمن

هغې پوښتنه وکړه:
روغتون کې یې؟

ما وویل:
هو.

ویې ویل:
نو ما خو مزاحمت نه دی درته کړی؟

ما وویل:
نه، هیڅ.

بیا مې په نیمه ټوکه وویل:
ته خو نن زما د کار تر ټولو ښه وقفه شوې.

ketabton.com - The Digital Library



څو شیبې چوپه شوه.

بیا یې په ټیټ غږ وویل:

ښه...

د هغې د غږ له انداز څخه مې داسې احساس وکړ چې شاید لږه شرمېدلې وي.

ما موضوع بدله کړه.

پوښتنه مې ترې وکړه:

نن ورځ دې څنګه تېره شوه؟

هغې د خپلې ورځې څو خبرې راته وکړې.

زه هم ورته د روغتون د ورځې یوه وړه برخه بیان کړه.

ketabton.com - The Digital Library



خبرې ډېرې عادي وې.

نه کومه لویه خبره وه.

نه کومه ځانګړې موضوع.

خو بیا هم داسې احساس مې کاوه چې دا څو دقیقې له هرې اوږدې خبرې څخه ډېرې مهمې دي.

د هغې غږ مې اورېده او په زړه کې مې فکر کاوه:

نو دا هغه غږ دی چې تر دې مخکې مې یوازې په لیکلو کې پېژانده.

خبرې شاید پنځه یا شپږ دقیقې شوې وې.

هغې وویل:

ښه، ته کار کوه. زه دې ډېر نه نیسم.

ما وویل:

ketabton.com - The Digital Library



هو، سمه ده.

بیا مې لږه شېبه چوپتیا وکړه.

نه پوهېدم ولې مې نه غوښتل چې زنګ پای ته ورسېږي.

هغې وویل:

نو بیا به خبرې کوو.

ما وویل:

هو، خامخا.

زنګ ختم شو.

سکرین مې څو شېبې لا هم مخې ته نیولی و.

د زنګ د ختمېدو نښه مې کتل.

بیا مې موبایل ورو پر مېز کېښود.

ketabton.com - The Digital Library



کوټه هماغه وه.

روغتون هماغه و.

کارونه هماغه وو.

خو زما په دننه کې یو څه بدل شوي وو.

تر دې مخکې ما د هغې خبرې لوستلې وې.

اوس مې د هغې غږ هم له ځان سره درلود.

او زه نه پوهېدم چې دا به د زړه لپاره سکون وي...

که د یوې بلې اوږدې کیسې پیل.

د زنګ له ختمېدو وروسته مې یو څه وخت موبایل په لاس کې نیولی و.

نه مې غوښتل چې بیا یې چټ خلاص کړم، خو بیا مې هم خلاص کړ.

د زنګ موده مې وکتله.

څو دقیقې.

یوازې څو دقیقې وې.

ما موبایل بېرته جیب ته واچاوه او له کوټې ووتلم.

ketabton.com - The Digital Library



د روغتون دهلېز هماغسې و. يو ناروغ له يوې کوټې بلې ته وړل کېده، د نرسې له لاسه د کاغذونو يوه پاڼه ولوېده، د دروازې تر څنګ دوه کسان د خپل ناروغ په اړه په ټيټ غږ خبرې کولې.

هر څه عادي وو.

يوازې زه عادي نه وم.

د کارونو په منځ کې مې بيا بيا د هغې غږ ذهن ته راتلو.

سلام...

د هغې هماغه لومړۍ کلمه.

نه پوهېدم ولې مې په ذهن کې پاتې وه.

ما ځان ته وويل:

ketabton.com - The Digital Library



بس، یوه عادي خبره وه.

هغې زنګ وکړ.

خبرې مو وکړې.

تمامه شوه.؟

خو زړه مې د عقل خبره نه منله.

ما تر دې مخکې د هغې خبرې په لیکلو کې لوستلې وې. په لیکلو کې انسان کولی شي د هرې جملې لپاره څو دقیقې فکر وکړي، کلمه بدله کړي، میسج پاک کړي او بیا یې ولیږي.

خو په غږ کې داسې نه وي.

هلته د انسان د خبرو تر شا ډېر څه ښکاري.

د چوپتیا اوږدوالی.

د خندا طریقه.

د یوې کلمې د ویلو انداز.

او شاید همدا وجه وه چې د هغې غږ راته د هغې له میسجونو ډېر نږدې احساسېده.

ketabton.com - The Digital Library



د ورځې پاتې کارونه مې پای ته رسول.

ماښام چې له روغتونه ووتلم، د ښار شور زيات شوی و. دوکانونه خلاص وو، خلک د خپلو کارونو په لټه کې روان وو، ځينې د موټرو تر څنګ ولاړ وو او د کور د تلو لپاره يې انتظار کاوه.

زه هم د خلکو په منځ کې روان وم.

موبايل مې جيب کې و.

هر څو قدمه وروسته به مې زړه غوښتل چې وګورم، شايد ميسج يې کړی وي.

خو ځان مې منع کړ.

ما نه غوښتل چې هره دقيقه د هغې د ميسج په تمه تېره کړم.

ځکه زه خپله هم پوهېدم چې دا کار ورو ورو د انسان اختيار له لاسه اخلي.

ketabton.com - The Digital Library



کور ته چې ورسېدم، د کور خلک په خپلو کارونو بوخت وو.

یو چا به د ورځې د کار خبرې کولې، بل د سبا د اړتیاوو په اړه.

ما هم د معمول په څېر خبرې وکړې.

چا نه پوښتل چې څه فکر کوم.

او ما هم نه ویل.

ځینې وختونه انسان د خلکو په منځ کې تر ټولو ډېر یوازې وي لکه زه چې وم.

د شپې له ډوډۍ وروسته خپلې کوټې ته لاړم.

موبایل مې پر مېز کېښود.

د هغې چټ مې نه پرانیست.

خپل کتاب مې راواخیست.

څو پاڼې مې ولوستې.

خو د هرې پاڼې وروسته مې فکر بل ځای و.

ketabton.com - The Digital Library



بالاخره مې کتاب بند کړ.

په څوکۍ کې کېناستم.

د کړکۍ له لارې مې بهر وکتل.

ښار ورو ورو ارامېده.

د ورځې شور کم شوی و.

ما د هغې په اړه فکر وکړ.

خو دا ځل مې له ځان سره یوه نوې ستونزه لرله.

زه نه پوهېدم چې هغه زما په اړه څه فکر کوي.

په میسجونو کې یې له ما سره خبرې کولې.

کله به یې خپله خبرې پیلولې.

کله به یې پوښتنه کوله.

نن یې زنګ هم وکړ.

خو ایا دا د هغې لپاره هماغومره مهم وو لکه زما لپاره؟

هیڅ ځواب نه و.

او تر ټولو سخته برخه یې همدا وه.

ketabton.com - The Digital Library



که هغې راته ویلي وای چې زه ورته مهم نه یم، شاید درد به یې کړی وای، خو خبره به روښانه وه.

که یې ویلي وای چې زه ورته مهم یم، نو بیا به مې هم زړه ته یو ډاډ پیدا شوی وای.

خو دا منځنی حالت...

همدا حالت انسان تر ټولو ډېر فکر کولو ته اړ کوي.

ما موبایل راواخیست.

د هغې چټ مې پرانیست.

وروستی میسج مې ولوست.

بیا مې موبایل کېښود.

څو دقیقې وروسته مې بیا راواخیست.

د هغې د نوم مخې ته مې ګوته ودروله.

غوښتل مې یو میسج ولیکم.

خو نه پوهېدم څه.

ketabton.com - The Digital Library

آنلاین مینه.
ژمن

سلام؟

څنګه یې؟

نن دې ورځ څنګه تېره شوه؟

هره جمله مې ډېره عادي ښکارېده.

او هره هغه جمله چې لږه شخصي وه، راته داسې ښکارېده لکه خپل زړه چې ورسره ښکاره کوم.

بالاخره مې هېڅ ونه لیکل.

موبایل مې بند کړ.

ما په ژوند کې ډېرې داسې ورځې لیدلې وې چې انسان د یوې ستونزې د حل لپاره هڅه کوي، لاره نه پیدا کوي، بیا بله لاره لټوي.

خو د زړه په ځینو مسایلو کې انسان هېڅ لاره نه لري.

نه کولی شي د بل انسان زړه ولولي.

نه کولی شي هغه مجبور کړي چې څه احساس کړي.

ketabton.com - The Digital Library



نه کولی شي خپل احساس هم په یوه شېبه کې ختم کړي.

یوازې انتظار کولی شي.

او ما نه غوښتل انتظار وکړم.

خو بیا مې هم کاوه.

سبا سهار بیا روغتون ته لاړم.

ورځ د نورو ورځو په څېر پیل شوه.

کارونه، ناروغان، پوښتنې، راپورونه او د خلکو خپلې ستونزې.

د هر چا لپاره یوه ستونزه وه.

ما د خلکو ستونزې اورېدلې، د حل لارې مې ورته لټولې، خو د خپل زړه د یوې وړې ستونزې لپاره مې هېڅ نسخه نه درلوده.

د غرمې پر مهال مې موبایل وښوراوه.

ketabton.com - The Digital Library



لاس مې سمدستي جیب ته لاړ.

د هغې میسج و.

یوازې یې لیکلي وو:

ډاکټر، مصروف یې؟

ما میسج ولوست.

یو عادي میسج و.

خو زما په زړه کې یې هماغه پخوانۍ خوښي پیدا کړه.

ما ولیکل:

لږ، خو ویلای شې.

څو شېبې وروسته یې ولیکل:

نه، بس وروسته به خبرې وکړو.

ما سکرین ته وکتل.

ketabton.com - The Digital Library



ما غوښتل وپوښتم:

ولې؟

ولې دې میسج وکړ؟

ولې دې بیا وویل وروسته به خبرې کوو؟

خو هېڅ مې ونه ویل.

یوازې مې ولیکل:

سمه ده.

موبایل مې جیب ته واچاوه.

د کار پر لور مې بېرته وکتل.

خو په زړه کې مې یو کوچنی سوال پاتې شو:

که هغې یوازې عادي خبرې کولې، نو بیا ولې یې زما د مصروفیت پوښتنه وکړه؟

او که زما په اړه یې فکر کاوه، نو ولې یې خبرې نیمګړې پرېښودې؟

زه بیا هم په هماغه ځای کې ولاړ وم.

ketabton.com - The Digital Library

آنلاین مینه.
ژمن

د هغې د احساساتو دروازې ته نږدې.

خو لا هم دننه نه وم داخل شوی.

او نه پوهېدم چې هغه به کله دا دروازه پرانیزي.

شاید هېڅکله.

شاید سبا.

او شاید هغه لا خپله هم نه پوهېده چې د دې اړیکې په اړه څه احساس لري.

همدا ناڅرګندوالی و چې ما یې په تمه ساته.

نه دومره چې ژوند مې ودروي.

خو دومره چې هر ځل به موبایل رڼا شو، زړه مې به یې په لور وګرځېد.

څو ورځې نورې هم تېرې شوې.

زموږ خبرې لا هم کېدې.

کله به میسج و.

ketabton.com - The Digital Library



کله به لنډ زنګ.

کله به یوه عادي پوښتنه وه:

څنګه یې؟

او کله به یوازې دومره:

کار دې څنګه روان دی؟

ما په دې موده کې هڅه کوله چې ځان قانع کړم چې هر څه عادي دي.

خو په حقیقت کې زما لپاره عادي نه وو.

زه د هغې د میسج انتظار ته عادت شوی وم.

که به سهار میسج راغی، ورځ به مې ښه تېره شوه.

که به ماښام یې میسج وکړ، د ورځې ستړیا به مې لږه هیره شوه.

خو هغې هېڅکله داسې خبره نه وه کړې چې زه پرې پوه شم چې هغه هم هماغسې احساس لري.

ما یوازې له خپلو فکرونو څخه معناوې جوړولې.

ketabton.com - The Digital Library



يوه ورځ د روغتون په يوه نسبتاً ارامه وخت کې د هغې زنګ راغی.

ما زنګ پورته کړ.

سلام.

ما هم سلام ورته وکړ.

لږې عادي خبرې مو وکړې.

بیا هغې ناڅاپه وویل:

یوه خبره درته کوم، خو مه خفه کیږه.

زړه مې لږ دروند شو.

ما وویل:

وایه.

هغې وویل:

زه نه پوهیږم ولې، خو فکر کوم باید درته ووایم.

ketabton.com - The Digital Library



ما چوپتیا وکړه.

هغې لږه شیبه وروسته وویل:

زه نامزاده یم.

د هغې دا خبره مې واورېده.

خو څو شیبې مې داسې احساس کاوه لکه ذهن مې چې د خبرې معنا نه اخلي.

ما یوازې وویل:

ښه...

هغې وویل:

هو.

ketabton.com - The Digital Library



بیا یې چوپتیا وکړه.

ما د روغتون له کړکۍ بهر وکتل.

خلک په دهلېز کې تېرېدل.

یو کارکوونکی له یوه ناروغ سره خبرې کولې.

له بلې خونې څخه د دروازې د تړل کېدو غږ راغی.

هر څه عادي وو.

یوازې زه عادي نه وم.

ما هڅه وکړه عادي غږ وکړم.

ومې ویل:

مبارک دې وي.

هغې وویل:

مننه.

ketabton.com - The Digital Library



بیا مې وپوښتل:

نو ولې دې اوس راته وویل؟

هغې وویل:

ځکه چې زموږ خبرې زیاتې شوې دي.

ما هېڅ ونه ویل.

هغې ادامه ورکړه:

او زه نه غواړم چې ته کومه خبره په غلطه معنا واخلې.

دا جمله یې تر هر څه ډېره درنه شوه.

ketabton.com - The Digital Library



زه پوه شوم چې هغه څه احساسوي.

یا لږ تر لږه څه فکر کوي.

ما ورو وویل:

ته فکر کوې چې ما غلطه معنا اخیستې؟

هغې وویل:

زه نه پوهېږم.

بیا یې وویل:

خو ځینې وختونه ستا د خبرو له انداز څخه داسې ښکاري لکه ته چې د اظهار کولو کوښښ کوئ.

ما سترګې ښکته کړې.

په زړه کې مې ډېرې خبرې وې، خو هېڅ یوه مې په خوله نه راتله.

ketabton.com - The Digital Library

آنلاین مینه.
ژمن

ما وویل:

شاید.

هغې وویل:

زه هم شاید لږه ملامته یم.

ما ژر وویل:

نه، ته ملامته نه یې.

هغې وویل:

ولې نه؟

ما وویل:

ځکه تا خو ما سره یوازې خبرې کولې.

ketabton.com - The Digital Library

آنلاین مینه.
ژمن

هغې وویل:

همدا خبره ده.

بیا لږه شیبه چوپه شوه.

ورو یې وویل:

ما له تا سره ځکه خبرې کولې چې ستا خبرې راته ښې وې. ته ارام سړی یې، خبرې دې بدې نه دي، او کله کله انسان داسې ملګرتیا ته اړتیا لري چې بې تکلفه خبرې ورسره وکړي.

ما سر ښکته کړ.

هغې وویل:

خو شاید ته د دې خبرو لپاره بل ځای ته تللی یې.

ما ونه شوای ویل چې نه.

ځکه پوهېدم چې رښتیا ده.

ketabton.com - The Digital Library



ما د هغې د عادي پاملرنې څخه خپل ځان ته یوه ځانګړې معنا جوړه کړې وه.

ما وویل:

هو.

هغې په ارامه وویل:

ولې؟

ما اوږده ساه واخیسته.

ما نه غوښتل دروغ ووایم.

ومې ویل:

نه پوهیږم.

ketabton.com - The Digital Library



شاید ځکه چې ما د ډېرو ورځو وروسته د چا په خبرو کې یو ډول سکون پیدا کړی و.

هغې وویل:

خو سکون تل مینه نه وي.

زه چوپ شوم.

هغې ادامه ورکړه:

هره اړیکه مینه نه وي. ځینې اړیکې یوازې ملګرتیا وي. ځینې خلک زموږ په ژوند کې راشي، خبرې ورسره وکړو، په خبرو یې خوشحاله شو، خو دا معنا نه لري چې باید د هغې اړیکې لپاره بل نوم پیدا کړو.

ما د هغې هره خبره په خاموشۍ کې اورېدله.

ketabton.com - The Digital Library



بیا یې وویل:

ته ډاکټر یې. ته باید د انسان د احساساتو په اړه له ما ډېر پوه شې.

ما په نیمه موسکا وویل:

د نورو خلکو په اړه شاید.

هغې هم لږه وخندل.

بیا یې وویل:

خو د خپل زړه په اړه نه.

ما وویل:

هو.

دا ځل مې هېڅ دفاع ونه کړه.

ما ځان ملامت کړ.

ketabton.com - The Digital Library



زه باید له لومړۍ ورځې پوه شوی وای چې زموږ خبرې یوازې خبرې دي.

ما باید د هغې هر میسج ته دومره معنا نه وای ورکړې.

ما باید د هغې د یوې پوښتنې له امله ټوله ورځ انتظار نه وای کړی.

هغې وویل:

زه نه غواړم چې ته ځان بد احساس کړې.

ما وویل:

نه، بد نه یم.

بیا مې لږ مسکا وکړه.

او ومې ویل:

یوازې لږ شرمیږم.

ketabton.com - The Digital Library



هغې وپوښتل:

ولې؟

ما وویل:

ځکه ما خپل احساسات داسې ځای ته پرېښودل چې ښايي له پیل څخه يې ځای نه و.

هغې سمدستي وویل:

ته بد انسان نه یې.

ما وویل:

زه هم دا نه وایم.

یوازې فکر کوم چې باید خپل ځان مې لږ ښه پېژندلی وای.

ketabton.com - The Digital Library



هغې وويل:

همدا خبره ده.

بيا يې په ارامه وويل:

ما هم بايد مخکې درته ويلي وای چې نامزاده يم او دبل کس لپاره ژوند کوم.

ما وويل:

هو، کاش.

خو بيا مې وويل: که تا له لومړۍ ورځې هم راته ويلي وای، شايد زما ذهن بيا هم خپله کيسه جوړه کړې وای.

هغې وخندل.

ويې ويل:

نو بيا خو ستونزه په ما کې نه وه.

ما هم وخندل.

ketabton.com - The Digital Library



ومې ویل:

نه، دا ځل به ټول مسؤلیت زه اخلم.

څو شېبې دواړه غلي وو.

د هغې غږ راته لا هم عادي و.

نه پکې د ګناه احساس و، نه داسې کومه خبره چې ما ته يې د مينې تمه راکړې وای.

همدا عادي والی شاید تر ټولو سخت و.

ځکه زه پوه شوم چې هغه شاید له دې خبرو څخه هېڅکله هغه معنا نه وه اخیستې چې ما ترې اخیستې وه.

ما وویل:

یو شی درنه پوښتم.

ketabton.com - The Digital Library



هغې وویل:

وایه.

ما وویل:

ایا زموږ خبرې به نورې هم وي؟

هغې لږه شیبه فکر وکړ.

بیا یې وویل:

که ته کولی شې چې ځان یوازې د ملګرتیا په حد کې وساتې، ولې نه؟

ما سترګې پټې کړې.

دا خبره اسانه نه وه.

خو پوهېدم چې باید ومنل شي.

ما وویل:

ketabton.com - The Digital Library

آنلاین مینه.
ژمن

هو.

بیا مې ورزیاته کړه:

خو ښايي لږ وخت ته اړتیا ولرم.

هغې وویل:

زه پوهېږم.

ما وویل:

نه غواړم ته فکر وکړې چې زه درسره خفه یم.

هغې وویل:

زه هم نه غواړم ته فکر وکړې چې ما غوښتل تا ته کومه هیله درکړم.

ما وویل:

تا نه ده راکړې.

ketabton.com - The Digital Library



لږ چوپ شوم.

بیا مې وویل:

ما خپله جوړه کړې وه.

د هغې له خولې یو نرم اسوېلی ووت.

ویې ویل:

نو بیا به یې خپله بېرته هم ختموې.

ما په دې خبره کې عجیبه سکون احساس کړ.

ځکه چې زړه مې نه و مات.

بلکې ما بالاخره د خپل احساس نوم پېژندلی و.

دا مینه وه که نه، نه پوهېدم.

خو دومره پوهېدم چې ما د هغې په تمه خپل ډېر عادي ساعتونه ځانګړي کړي وو.

ما د هغې د یوه میسج په تمه خپل د ژوند ورځې داسې تیرولي لکه ماهي چې له اوبو څخه لیري وي .

ketabton.com - The Digital Library

آنلاین مینه.
ژمن

او دا هغه څه وو چې باید ما پخپله سم کړي وای.

موږ څو نورې عادي خبرې وکړې.

د روغتون په اړه.

د هغې د ورځې په اړه.

د موسم په اړه.

لکه مخکې.

خو زما لپاره نور د هغې هره خبره یو راز نه و.

زنګ مو پای ته ورساوه.

هغې وویل:

پام کوه.

ما وویل:

ته هم.

زنګ بند شو.

ketabton.com - The Digital Library



دا ځل مې موبایل سمدستي پر مېز کېښود.

نه مې د میني په تمه ورته کتل.

نه مې انتظار کاوه چې بېرته زنګ راشي.

یوازې مې څو شېبې چوپ ناست وم.

له کړکۍ بهر ماښام و.

خلک له کارونو ستړي کورونو ته روان وو.

د سړک پر سر موټرونه تېرېدل.

په دوکانونو کې څراغونه بل وو.

د ښار ژوند خپل عادي حالت ته روان و.

ما هم باید خپل ژوند بېرته عادي کړی وای.

په زړه کې مې وویل:

شاید هر څوک چې زموږ زړه ته نږدې شي، د پاتې کېدو لپاره نه وي راغلی.

ketabton.com - The Digital Library



ځینې خلک یوازې دومره راځي چې موږ ته وښيي، زموږ زړه لا هم د احساس کولو توان لري.

او ځینې وختونه تر ټولو سخته مینه دا نه وي چې یو څوک له لاسه ورکړې.

تر ټولو سخته خبره دا وي چې ومنې، هغه هېڅکله ستا نه و.

ما موبایل واخیست.

د هغې چټ مې خلاص کړ.

زموږ د لومړۍ ورځې میسجونه مې تر سترګو شول.

هغه جمله مې بیا ولوستله:

نن دې یو انځور راته ولیږه، غواړم وو دې ګورم.

ما لږه موسکا وکړه.

بیا مې چټ بند کړ.

نه مې حذف کړ.

ketabton.com - The Digital Library



نه مې کومه وروستۍ خبره ورته ولیکله.

ځکه هره کیسه د وروستۍ جملې اړتیا نه لري.

ځینې کیسې یوازې هغه وخت پای ته رسیږي چې انسان په زړه کې ووایي:

بس، نور یې په خپله معنا نه جوړوم.

ما هم همداسې وکړل.

له هغې سره مې دښمني نه شوه.

له ځان سره مې هم جګړه نه کوله.

یوازې مې خپل زړه ته وویل:

هره اړیکه مینه نه وي.

ځینې یوازې ملګرتیا وي.

او کله چې د ملګرتیا له حد څخه هاخوا د تګ احساس درشي، باید لومړی له ځان څخه وپوښتې چې مقابل لوری هماغه لاره درسره روان دی که نه.

ما ځواب پیدا کړ.

ketabton.com - The Digital Library



او شاید همدا د دې کیسې تر ټولو مهمه خبره وه.

هغه زما په ژوند کې راغله.

له ما سره یې خبرې وکړې.

زه یې خوشحاله کړم.

ما مې د خپل زړه یوه برخه وپېژندله.

او بیا یې ماته دا هم را زده کړل چې هره خوږه خبره د مینې ژمنه نه وي.

ما کړکۍ بنده کړه.

د خونې څراغ مې مړ کړ.

او هغه شپه مې د لومړي ځل لپاره د هغې د میسج انتظار ونه کړ.

همدا و.

زموږ کیسه همدلته پای ته ورسېده.

نه په جنګ.

نه په شکایت.

نه په کومه لویه پېښه.

ketabton.com - The Digital Library



یوازې په دې حقیقت چې کله کله دوه کسان سره نږدې شي، خبرې وکړي، یو بل ته د ځو ورځو لپاره د ژوند یوه وړه برخه ورکړي، خو د دوی لارې بیا هم یو ځای نه وي.

او ما په پای کې دا ومنله.

چې ځینې وختونه د زړه د ارامولو یوازینۍ لار دا وي چې حقیقت ومنې، حتی که حقیقت هغه څه نه وي چې زړه دې غوښتل.

پای

لیکوال

ډاکټر عتیق الله ژمن

د بشپړ کیدو تاریخ

2026/8/9

ketabton.com - The Digital Library



زما اثار:

**ناحقه سزا**(ناول)

**له نړۍ بهر لس ورځې** (ناول)

**مجرم** (ناول)

**هغه ګناه چې توبه سوه**(ناول)

**د روح چیغه** (شعري ټولګه)

**اصلي ترهګر لومړی پړاو**(ناول)

**اوسنی کتاب: آنلاین مینه**(ناول)

**Whatsapp**:

***+93744 405 671***

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*